LGBTQ+ people and cancer: Pashto

# +LGBTQ خلک او سرطان

دغه معلومات د هغو +LGBTQ خلکو لپاره دي چې سرطان لري.

+LGBTQ یعنې ښځینه همجنسباز، نارینه همجنسباز، دوه جنسیته، د جنسیت تغیر ورکوونکي او غیر عادي خلک. په دې کې همدارنګه نور رومانتیک یا جنسي جذابیتونه او د جنسیت پیژندنه شاملیږي.

که تاسو +LGBTQ یاست، تاسو کېدی شي د سرطان او د خپل سرطان د درملنې په اړه پوښتنې ولرئ. تاسو کېدی شي هغه ځانګړي ملاتړ ته اړتیا ولرئ چې د سرطان لرونکو +LGBTQ خلکو لپاره دی.

که تاسو د دې معلوماتو په اړه پوښتنې لرئ، په کوم روغتون کې چې ستاسو درملنه کیږي هلته د خپل ډاکټر یا نرسې څخه پوښتنه وکړئ.

همدارنګه تاسو کولی شئ د وړیا تلفوني شمېرې **0808 808 00 00** له لارې په اونۍ کې 7 ورځې هره ورځ د سهار له 8 څخه د شپې تر 8 پورې د Macmillan د سرطاني ناروغیو د ملاتړ ځانګې ته زنګ ووهئ. موږ ژباړونکي لرو، نو تاسو کولی شئ چې زموږ سره په خپله ژبه خبرې وکړئ. کله چې موږ ته زنګ وهئ، مهرباني وکړئ موږ ته په انګلیسي کې وواياست چې کومې ژبې ته اړتیا لرئ.

موږ همدارنګه ستاسو په ژبه کې د سرطان په اړه په لاندې لینک کې نور معلومات لرو
**macmillan.org.uk/translations**

## دا معلومات د لاندې مواردو په اړه دي:

- د روغتیاپالنې له ټیم سره خبرې کول
- مناسبه درملنه
- سرطان، جنسي اړیکه او امېندواري
- د جنسیت د تغیر ورکوونکو او غیر بایبنري خلکو لپاره د سرطان درملنه
- د خپل ځان لپاره مناسب مراقبت او ملاتړ ترلاسه کول
- Macmillan څنګه کولای شي تاسو سره مرسته وکړي
- ستاسو په ژبه کې نور معلومات
- مأخذونه او منڼې

## د روغتیاپالنې له ټیم سره خبرې کول

**آیا زما د روغتیاپالنې ټیم اړتیا لري په دې پوه شي چې زه +LGBTQ یم؟**

ستاسو د روغتیاپالنې ټیم هغه کسان دي چې ستاسو درملنه کوي یا ستاسو د روغتیا په هکله تاسو ته مشورې درکوي. دا کېدی شي ستاسو عمومي ډاکټر، د سرطان ډاکټر یا نرسانې وي.

ځینې وختونه ستاسو د روغتیا پالنې ټیم کېدی شي د لاندې مواردو په هکله تاسو څخه وپوښتي:

- ستاسو جنسیت - دا په دې مانا چې آیا تاسو سړی، ښځه، یا د بل جنسیتي هویت لرونکي یاست
- ستاسو جنسي یا عاشقانه اړیکې
- ستاسو د جنسي اړیکو ژوند.

تاسو باید په دې هکله له دوی سره خبرې ونکړئ، اما دا کېدی شي ستاسو د روغتیاپالنې له ټیم سره دا مرسته وکړي چې ستاسو ملاتړ وکړي. دا له هغوی سره مرسته کوي چې:

- تاسو ته سم معلومات درکړي
- په داسې توګه ستاسو درملنه وکړي چې ستاسو لپاره شخصي وي
- د هغو خلکو ملاتړ وکړي چې ستاسو لپاره مهم دي.

که تاسو ډاډه نه یاست چې ستاسو د روغتیاپالنې ټیم ولې دغو معلوماتو ته اړتیا لري، تاسو کولای شئ له هغوی وپوښتئ. هغوی کولای شي تاسو ته ووایي چې دا به ولې مهمه وي چې ستاسو ملاتړ او درملنه وکړي.

**آیا زه کولای شم د روغتیاپالنې خپل ټیم ته ووایم چې زه +LGBTQ یم؟**

که تاسو غواړئ چې ستاسو د روغتیاپالنې ټیم پوه شي، تاسو کولای شئ هغوی ته ووایاست چې تاسو +LGBTQ یاست، حتی که هغوی پوښتنه هم نه وي کړې.

تاسو کولای شئ دغه کار هغه مهال وکړئ کله چې لومړی ځل د خپل ټیم له کوم غړي سره ګورئ. یا کېدی شي تر هغه انتظار وکړئ ترڅو دغه کس ښه وپیژنئ.

د روغتیاپالنې ځینې متخصصین د NHS رنګین کمان نښه اغوندي. دا په دې مانا چې د دې نښان اغوستونکي خلک له +LGBTQ خلکو څخه ملاتړ کوي. ستاسو د روغتیاپالنې د ټیم ځینې نور خلک ښایي کېدی شي د رنګین کمان نور توکي واغوندي. هغوی کېدی شي +LGBTQ وي یا هغوی کېدای شي وغواړي وښیي چې له +LGBTQ خلکو سره ملاتړ کوي.

**زه باید د روغتیاپالنې خپل ټیم ته نور څه ووایم؟**

تاسو کولای شئ د روغتیاپالنې خپل ټیم ته ټول هغه شیان ووایاست چې ستاسو لپاره مهم دي. په دې کې کېدی شي لاندې شیان شامل وي:

- که تاسو کورنی، ملګري یا داسې شریک لرئ چې ستاسو ملاتړ کوي
- هغه کسان چې تاسو هغوی ته رضایت ورکوئ چې ستاسو د پالنې په اړه خبرې وکړي
- کومو معلوماتو ته تاسو اړتیا لرئ او اړتیا نلرئ.

تاسو کېدی شي وغواړئ څرګنده کړئ چې تاسو په کې شامل یاست یا نه. دا په دې مانا چې نور خلک پوه شي چې تاسو +LGBTQ یاست کنه یا دا چې تاسو دغه راز پټ ساتئ. ستاسو ټیم باید ستاسو اړوند ټول معلومات محرم وساتي. هغوی باید ستاسو له اجازې پرته هېچا ته ونه وایي چې تاسو +LGBTQ یاست.

## د مناسبې درملنې ترلاسه کول.

که چېرې تاسو +LGBTQ یاست، ستاسو د سرطان ټیم باید په مساوي توګه ستاسو درملنه وکړي. له دې امله د یو چا ناسمه درملنه چې +LGBTQ دی، د قانون خلاف کار دی. که داسې وشي، له داسې چا سره خبره وکړئ چې باور وربانډې لرئ.

که تاسو داسې احساسوئ چې نامناسب چلند درسره کېږي، ځینې کارونه شتون لري چې تاسو یې باید وکړئ:

- د روغتیاپالنې د خپل ټیم له کوم غړي سره خبرې وکړئ، که چېرې دا کار ترسره کول خوندي احساسوئ. دا کېدی شي د ستونزې په هواري کې ستاسو له ټیم سره مرسته وکړي. دا همدارنګه له هغوی سره مرسته کوي چې زده کړه وکړي او ستاسو پالنه وکړي.
- له داسې چا سره خبرې وکړئ چې باور وربانډې لرئ. دا کېدی شي تاسو ته نږدې کس وي یا د روغتیاپالنې داسې متخصص وي چې تاسو یې ښه پېژنئ. داسې سازمانونه هم شتون لري چې +LGBTQ لرونکي خلک کولای شي خبرې ورسره وکړي.
- NHS ته فیډبک ورکړئ یا شکایت ورته وکړئ. تاسو کولای شئ پرته له دې چې خپل نوم ورسره شریک کړئ، فیډبک ورکړئ یا شکایت ورته وکړئ.

## سرطان، جنسي اړیکه او امېندواري

سرطان او د سرطان ځینې درملنې کولای شي لاندې اغېزې ولري:

- ستاسو د جنسي اړیکو ژوند: - ځینې جانبي عوارض کېدی شي ستاسو جنسي اړیکې ته په پام سره چې ترجېح ورکوئ لویه ستونزه وي
- ستاسو امېندواري - دا په دې مانا چې د امېندواره کېدو یا د بل چا د امېندواره کولو لپاره ستاسو وړتیا.

ستاسو د سرطان ډاکټر یا نرسه کولای شي تاسو ته ووایي چې آیا ستاسو د سرطان درملنه کولای شي چې ستاسو د جنسي اړیکې لپاره جانبي عوارض یا د امېندواره کېدو ستونزه ولري. تاسو کولای شئ له هغوی څخه له درملنې مخکې، د درملنې په جریان کې یا وروسته د جنسي اړیکې یا امېندوارۍ په هکله هر ډول پوښتنې وکړئ.

## د جنسیت د تغیر ورکوونکو یا غیر باینري خلکو لپاره د سرطان درملنه

**آیا زما د سرطان ټیم ته اړتیا لري چې پوه شي د زېږون پر مهال زما جنسیت څه و؟**

تاسو باید خپل ټیم ته څرګنده نکړئ چې د زېږون پر مهال تاسو ته کوم جنسیت ټاکل شوی و که چېرې تاسو خپل جنسیت ته تغیر ورکړی وي. اما دا کېدی شي ګټور وي او ځیني وختونه دا مهمه وي چې ستاسو ټیم په دې پوه شي چې د زیږون پر مهال ستاسو جنسیت څه و.

د بېلګې په توګه، د امېندوارۍ پر مهال ځیني سکنونه باید ونه کارول شي ځکه چې کېدی شي مضر وي. که تاسو اوس د نارینه په توګه خپل هویت څرګند کړئ او تاسو کېدی شي امېندواره شئ، دا مهمه ده چې د سکن ترسره کوونکی په دې باندې پوه شي.

ستاسو ټیم باید همېشه ستاسو د جنسیت اړوند ټول معلومات محرم وساتي. هغوی کېدی شي په دې هکله د روغتیاپالني نورو متخصصینو ته وواېي، اما یوازې هغه مهال چې ستاسو د پالنې لپاره اړتیا ورته پیدا شي.

تاسو کولای شئ د سرطان خپل ټیم ته وواياست چې کوم نوم او ضمایر تاسو کاروئ. ضمایر په لاندې ډول دي:

- هغه(ښځینه) هغې
- هغه (نر) هغه
- هغوی او د هغوی

**د جنسیت د تاییدی درملنې او سرطان**

د جنسیت د تاییدی دغه درملنې کېدی شي د سرطان په درملنې اوستاسو د اړتیا وړ معلوماتو باندې اغېز وکړي:

- هورموني درمل چې ستاسو بدن ته ډېر د نارینتوب یا ښځینه توب خاصیت ورکوي
- د نارینه او ښځینه د تناسلي غړو د جوړولو عملیات (تناسلي سرجري)
- د سینو د غوځولو عملیات. دا د ټاپ سرجرۍ یا د نارینه د سینې د بیارغونې په نوم یادېږي.

دا مهمه ده چې تاسو د سرطان خپل ټیم ته وواياست که چېرې هورموني درمل کاروئ. هغوی همدارنګه باید په دې پوه شي چې تاسو سرجري کړې ده کنه، یا دا چې تاسو د دې کار لپاره په آینده کې پلان لرئ.

که چېرې ستاسو د سرطان ټیم ستاسو د سرطان د پالنې د څرنګوالي په هکله مشورې ته اړتیا لري چې ستاسو پالنه څنګه ستاسو د جنیست په تاییدی باندې اغېز لري، هغوی کولای شي د جنیست د هویت له ډاکټر څخه مشوره واخلي. هغوی باید د دې کار لپاره ستاسو اجازه واخلي.

**زه به په روغتون کې چېرې پاتې کېږم؟**

که تاسو په روغتون کې پاتې کېدو ته اړتیا لرئ، ستاسو ټیم باید پوښتنه وکړي چې تاسو چېرته باید پاتې شئ. په روغتون کې ځیني وارډونه یوازې د نارینه وو یا ښځینه وو لپاره دي. چېرې چې تاسو پاتې کېږئ باید ستاسو لپاره محرم او خوندي وي. خپل ټیم ته وواياست چې څه شی تاسو ته د هوسایۍ او سموالي احساس درکوي.

## LGBTQ+، سرطان او ستاسو ټولنه

کورنۍ او ټولنه کېدی شي د ملاتړ لپاره مهمې سرچینې وي. اما ځینې وختونه د خلکو سره د هغوی د ټولنې له خوا منفي چلند کیږي ځکه چې هغوی LGBTQ+ دي یا ځکه چې هغوی سرطان لري. که داسې وشي، کوښښ وکړئ له داسې چا سره خبره وکړئ چې باور وربانديې لرئ. دا کېدی شي ملګری، د کورنۍ غړی یا داسې څوک وي چې تاسو کار ورسره کوئ. د دې کار د پیښېدو په صورت کې کولای شئ له مشاور سره خبرې وکړئ. له خپل عمومي ډاکټر، د سرطان له ډاکټر یا نرسې څخه غوښتنه وکړئ که چیرې کولای شي دا کار وکړئ. یا زموږ د وړیا ملاتړ کرښې ته د معلوماتو او ملاتړ په موخه 00 00 808 0808 شمېرې ته زنګ ووهئ.

## د خپل ځان لپاره مناسب مراقبت او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسو سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه خبرې نه کوئ، تاسو ښايي اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او مراقبت بانديې اغېز وکړي. اما ستاسو د روغتیاپالنې ټیم باید تاسو ته داسې مراقبت، ملاتړ او معلومات ورانديې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهیږو چې ځینې وختونه خلک ښایي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښايي د پیسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه اندېښنه ولرئ. دغه ټول شیان سټرېس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

اما مرسته شتون لري. زموږ د مرستې وړیا تلفوني کرښه **00 00 808 0808** کولای شي ستاسو د وضعیت په هکله، ستاسو په ژبه، تاسو ته لارښووني ورانديې کړي. تاسو کولای شئ له نرسانو، مالي لارښوونکو، د هوساینې د حقونو له مشاورینو او د کار د ملاتړ له مشاورینو سره خبرې وکړئ.

موږ همدارنګه په سرطان بانديې د اخته کسانو لپاره د Macmillan بلاعوضه مرستې ورانديې کوو. دغه یو ځلي تادیات دي چې د روغتون د پارکینګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بېلونو په شان شیانو لپاره استفاده ورڅخه کیږي.

## Macmillan څنګه کولای شي تاسو سره مرسته وکړي

په Macmillan کې، موږ پوهیږو چې د سرطان تشخیص څنګه کولای شي په هر څه بانديې اغېز وکړي، او موږ دلته ستاسو د مرستې لپاره یو.

**د Macmillan د ملاتړ تلفوني کرښه**
موږ ترجمانان لرو، نو تاسو کولای شئ له موږ سره په خپله ژبه بانديې خبرې وکړئ. یوازې موږ ته په انګلیسي ژبه د هغې ژبې په هکله وواياست چې تاسو خبرې پرې کوئ. موږ کولای شو د طبي پوښتنو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو، د مالي مرستې په هکله معلومات درکړو، او که غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، موږ ستاسو غوښتنو ته غوږ ونیسو. د تلفون وړیا او محرمه کرښه په اونۍ کې 7 ورځې د سهار له 8 بجو د شپې تر 8 بجو پورې پرانیستې ده. موږ ته په **00 00 808 0808** شمېره زنګ ووهئ.

**ویب چټ**
تاسو کولای شئ موږ ته د ویب چټ پیغام واستوئ او موږ ته ووایاست چې ترجمان ته اړتیا لرئ. موږ ته په انګلیسي کې د هغې ژبې په هکله ووایاست چې اړتیا ورته لرئ، او زموږ کس به له تاسو سره اړیکه ونیسي. په ' Chat to us' بټنه بانديې کلیک وکړئ چې د ویب پاڼې په ټولو پاڼو بانديې ځرګندیږي. یا **macmillan.org.uk/talktous** ته مراجعه وکړئ

**د Macmillan ویب پاڼه**
زموږ ویب پاڼه د سرطان په هکله په انګلیسي ژبه کې ډېر معلومات لري.

همدارنګه په نورو ژبو بانديې هم په **macmillan.org.uk/translations** کې معلومات شتون لري

موږ همدارنګه کولای شو یوازې ستاسو لپاره د ژباړې خدمات وړاندې کړو. د هغه څه په اړه چې اړتیا ورته لرئ، موږ ته په **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** باندې برېښنالیک واستوئ.

**د معلوماتو مرکزونه**
زموږ د معلوماتو او ملاتړ مرکزونه په روغتونونو، کتابتونونو او د تلفون په مرکزونو کې دي. د اړتیا وړ معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره زموږ یوه معلوماتي مرکز ته مراجعه وکړئ او مخامخ له یو چا سره خبرې وکړئ. خپل تر ټولو نږدې مرکز په **macmillan.org.uk/informationcentres** کې ومومئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د ملاتړ محلي ګروپونه**
د ملاتړ په ګروپونو کې، تاسو کولا شئ له نورو هغو خلکو سره خبرې وکړئ چې له سرطان څخه اغېزمن شوي دي. په خپله سیمه کې د ملاتړ د ګروپونو په هکله په **macmillan.org.uk/supportgroups** کې معلومات ولولئ یا موږ ته په **0808 808 00 00** شمېره زنګ ووهئ.

**د Macmillan آنلاین ټولنه**
تاسو همدارنګه کولای شئ په آنلاین ډول له نورو هغو خلکو سره چې د سرطان له امله اغېزمن شوي دي د **macmillan.org.uk/community** له لارې خبرې وکړئ. تاسو کولای شئ د شپې یا ورځې په هر وخت کې لاسرسی ورته ولرئ. تاسو کولای شئ خپلې تجربې شریکې کړئ، پوښتنې وکړئ، یا فقط د خلکو د پوستونو له لارې معلومات ولولئ.

## ستاسو په ژبه کې نور معلومات

موږ د دغو موضوعاتو په هکله ستاسو په ژبه کې معلومات لرو:

| **د سرطان ډولونه** | **له سرطان سره مبارزه کول** |
|---|---|
| • د سینې سرطان<br>• د رحم د خولې سرطان<br>• د لویو کولمو سرطان<br>• د سږي سرطان<br>• د پروستات سرطان<br><br>**درملنې**<br><br>• کیموتراپي<br>• رادیوتراپي<br>• جراحي عملیات | • که چیرې ستاسو سرطان تشخیص شوي وي – چټکه لارښوونه<br>• د خوړلو ستونزې او سرطان<br>• د ژوند پای<br>• مالي ملاتړ-ګټې<br>• مالي ملاتړ-د بیو مرسته<br>• سالم خوراک کول<br>• ستړیا (ستوماني) او سرطان<br>• د سرطان د درملنې جانبي عوارض<br>• څنګه خپل د ځانه سره مرسته کولای شئ |

د دغو معلوماتو د کتلو لپاره، **macmillan.org.uk/translations** ته مراجعه وکړئ

## مأخذونه او منني

دغه معلومات د Macmillan د سرطان د ملاتړ د سرطان د معلوماتي پراختيا د ټيم په واسطه ليکل او تحرير شوي دي. دا د ژباړې د شرکت په واسطه ژباړل شوی دی.

دلته درج شوي معلومات د +LGBTQ خلکو او د سرطان د درملنې په هکله د Macmillan د معلوماتو په **www.macmillan.org.uk/cancer-information-and-support/impacts-of-cancer/lgbtq-cancer** پته کې دي

دغه معلومات د Live Through This په واسطه ترتيب شوي دي - د +LGBTIQ ټولنې د سرطان د درملنې د ملاتړ او دفاع خيريه بنسټ http://www.livethroughthis.co.uk

دا معلومات د اړونده متخصصينو لخوا بياکتل شوي دي او تاييد شوي دي په واسطه د زموږ د طبي تحرير رئيس، پروفيسور ټيم آويسون، طبي مشاور سرطان پوه او د Macmillan طبي تحرير رئيس.

زموږ ټول معلومات د غوره شته شواهدو پر اساس دي. د هغو سرچینو په هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې موږ يې کاروو، په مهربانۍ سره له موږ سره د **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** له لارې اړيکه ونيسئ

MAC18794_Pashto

| |
|---|
| منځپانګه بيا کتل شوې: 2022 |
| راتلونکي پلان شوي بياکتنه: 2025 |

موږ هره هڅه کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې هغه معلومات چې موږ يې چمتو کوو دقيق او وروستي معلومات دي اما دا بايد ستاسو د وضعيت سره سم د مسلکي مشورې د بديل په توګه ونه کارول شي. تر هغه ځايه چې د قانون لخوا اجازه ورکړل شوې، Macmillan په دې خبرونه کې د هر هغه معلوماتو د کارولو يا د دريمي ډلې د معلوماتو يا د ويب پاڼې د شاملو معلومات يا راجع شويو معلوماتو مسؤليت نه مني.

د © Macmillan د سرطان ملاتړ 2022. په انګلستان او ويلز (261017)، سکاټلنډ (SC039907) او Man ټاپو (604) کې ثبت شوی خيريه بنسټ. ثبت شوی دفتر89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

Trusted Information Creator
Patient Information Forum

LGBTQ+ people and cancer: Pashto

# LGBTQ+ people and cancer

This information is for LGBTQ+ people who have cancer.

LGBTQ+ means lesbian, gay, bisexual, transgender and queer people. It also includes other romantic or sexual attractions and gender identities.

If you are LGBTQ+, you may have questions about cancer and your cancer treatment. You may want specific support that is for LGBTQ+ people who have cancer.

If you have any questions about this information, ask your doctor or nurse at the hospital where you are having treatment.

You can also call Macmillan Cancer Support on freephone **0808 808 00 00**, 7 days a week, 8am to 8pm. We have interpreters, so you can speak to us in your own language. When you call us, please tell us in English which language you need.

We also have more cancer information in your language at **macmillan.org.uk/translations**

## This information is about:


- Talking to the healthcare team
- Fair treatment
- Cancer, sex and fertility
- Cancer treatment for transgender and non-binary people
- Getting the right care and support for you
- How Macmillan can help you
- More information in your language
- References and thanks


## Talking to the healthcare team

### Does my healthcare team need to know I am LGBTQ+?

Your healthcare team are the people who give you treatment or advice about your health. This could be your GP, cancer doctor and nurses.

Sometimes a person in your healthcare team may ask you about:

- your gender – this means if you are a man, a woman, or any other gender identity
- your sexual or romantic relationships
- your sex life.

You do not have to talk to them about this,but it can help your healthcare team support you. It helps them:

- give you the right information
- treat you in a way that is personal for you
- support the people who are important to you.

If you are not sure why your healthcare team need this information, you can ask them. They can tell you why this may be important to support or treat you.

**Can I tell my healthcare team I am LGBTQ+?**

If you want your healthcare team to know, you can tell them you are LGBTQ+, even if they have not asked.

You may choose to do this when you first meet someone from your team. Or you may wait until you know the person better.

Some healthcare professionals wear an NHS Rainbow Badge. This means the person wearing it supports LGBTQ+ people. Some people in your healthcare team may wear other rainbow items instead. They may be LGBTQ+ or they may want to show they support LGBTQ+ people.

**What else should I tell my healthcare team?**

You can tell your healthcare team anything that is important to you. This could include:

- if you have family, friends or a partner who support you
- who you give consent for them to talk to about your care
- what information you do and do not need.

You may want to explain whether you are out or not. This means whether other people know you are LGBTQ+ or whether you keep this secret. Your team should treat all information about you confidentially. They should not tell anyone that you are LGBTQ+ without your permission.

## Getting fair treatment

Your cancer team must treat you equally if you are LGBTQ+. Treating someone unfairly because they are LGBTQ+ is against the law. If this happens tell someone you trust.

If you feel like you are being treated unfairly, there are things you can do:

- Talk to someone from your healthcare team, if you feel safe to do this. This may help your team make things right. It also helps them learn and give better care.
- Talk to someone you trust. This may be someone close to you or a healthcare professional you know well. There are also organisations that LGBTQ+ people can talk to.
- Give feedback or make a complaint to the NHS. You can give feedback and complaints without giving your name if you want to.

## Cancer, sex and fertility

Cancer and some cancer treatments can affect:

- your sex life – some side effects may be more of a problem depending on the type of sex you prefer
- your fertility – this means your ability to get pregnant or make someone pregnant.

Your cancer doctor or nurse can tell you if your cancer treatment may cause sexual side effects or fertility problems. You can ask them any questions about sex or fertility before, during or after cancer treatment.

## Cancer treatment for transgender or non-binary people

### Does my cancer team need to know my gender at birth?

You do not have to tell your team the gender you were assigned at birth or if you are transgender. But it can be helpful and sometimes it is important that your team knows the gender you were assigned at birth.

For example, some scans should not be used during pregnancy and can be harmful. If you now identify as male but you can get pregnant, it is important that the person doing the scan knows this.

Your team should always treat information about your gender history confidentially. They may tell other healthcare professionals, but only when it is needed for your care.

You can tell your cancer team what name and pronouns you use. Pronouns are:

- she and her
- he and him
- they and them

**Gender-affirming treatments and cancer**

These gender-affirming treatments may affect the cancer treatment and information you need:

- hormone drugs that make your body more male or female
- surgery to make a penis or vagina (genital surgery)
- surgery to remove the breasts. This is called top surgery or male chest reconstruction.

It is important to tell your cancer team if you are taking hormone drugs. They also need to know if you have had surgery, or if you plan to have this in the future.

If your cancer team need advice about how your cancer care may affect your gender-affirming care, they can get advice from a gender identity doctor. They should ask your permission to do this.

**Where will I stay in hospital?**

If you need to stay in hospital, your team should ask where you want to stay. Some wards in hospital are only for men or only for women. Where you stay should give you privacy and keep you safe. Tell your team what feels comfortable and right for you.

## LGBTQ+, cancer and your community

Family and community can be an important source of support. But sometimes people are treated negatively by their community because they are LGBTQ+ or because they have cancer. If this happens try to talk to someone you trust. This could be a friend, family member or someone you work with. You could speak to a counsellor if this would help. Ask your GP, cancer doctor or nurse if they can arrange this. Or call our free support line on 0808 808 00 00 for information and support.

## Getting the right care and support for you

If you have cancer and do not speak English, you may be worried that this will affect your cancer treatment and care. But your healthcare team should offer you care, support and information that meets your needs.

We know that sometimes people may face extra challenges in getting the right support. For example, if you work or have a family it can be hard to find time to go to hospital appointments. You might also have worries about money and transport costs. All of this can be stressful and hard to cope with.

But help is available. Our free support line **0808 808 00 00** can offer advice, in your language, about your situation. You can speak to nurses, financial guides, welfare rights advisers and work support advisers.

We also offer Macmillan Grants to people with cancer. These are one-off payments that can be used for things like hospital parking, travel costs, childcare or heating bills.

## How Macmillan can help you

At Macmillan, we know how a cancer diagnosis can affect everything, and we are here to support you.

**Macmillan Support Line**
We have interpreters, so you can speak to us in your language. Just tell us, in English, the language you want to use. We can help with medical questions, give you information about financial support, or be there to listen if you need someone to talk to. The free, confidential phone line is open 7 days a week, 8am to 8pm. Call us on **0808 808 00 00**.

**Web chat**
You can send us aweb chat messagesaying you would like an interpreter. Tell us, in English, the language you need, and we will arrange for someone to contact you. Click on the 'Chat to us' button, which appears on pages across the website. Or go to**macmillan.org.uk/talktous**

**Macmillan website**
Our website has lots of information in English about cancer.

There is also more information in other languages at **macmillan.org.uk/translations**

We can also arrange translations just for you. Email us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk** to tell us what you need.

**Information centres**
Our information and support centres are based in hospitals, libraries and mobile centres. Visit one to get the information you need and speak with someone face to face. Find your nearest centre at **macmillan.org.uk/informationcentres** or call us on **0808 808 00 00**.

**Local support groups**
At a support group, you can talk to other people affected by cancer. Find out about support groups in your area at **macmillan.org.uk/supportgroups** or call us on **0808 808 00 00**.

**Macmillan Online Community**
You can also talk to other people affected by cancer online at **macmillan.org.uk/community** You can access it at any time of day or night. You can share your experiences, ask questions, or just read through people's posts.

## More information in your language

We have information in your language about these topics:

| Coping with cancer | Types of cancer |
|---|---|
| • If you are diagnosed with cancer – a quick guide<br>• Eating problems and cancer<br>• End of life<br>• Financial support – benefits<br>• Financial support – help with costs<br>• Healthy eating<br>• Tiredness (fatigue) and cancer<br>• Side effects of cancer treatment<br>• What you can do to help yourself | • Breast cancer<br>• Cervical cancer<br>• Large bowel cancer<br>• Lung cancer<br>• Prostate cancer<br>**Treatments**<br>• Chemotherapy<br>• Radiotherapy<br>• Surgery |

To see this information, go to **macmillan.org.uk/translations**

## References and thanks

This information has been written and edited by Macmillan Cancer Support's Cancer Information Development team. It has been translated by a translation company.

The information included is based on Macmillan's information about LGBTQ+ people and cancer treatment at **www.macmillan.org.uk/cancer-information-and-support/impacts-of-cancer/lgbtq-cancer**

This information was developed with Live Through This – a cancer support and advocacy charity for the LGBTIQ+ community http://www.livethroughthis.co.uk

It has been reviewed by relevant experts and approved by Dr Tim Iveson, Consultant Medical Oncologist and Macmillan Chief Medical Editor.

All our information is based on the best evidence available. For more information about the sources we use, please contact us at **cancerinformationteam@macmillan.org.uk**

MAC18794_ Pashto

Content reviewed: 2022

Next planned review: 2025

We make every effort to ensure that the information we provide is accurate and up-to-date but it should not be relied upon as a substitute for specialist professional advice tailored to your situation. So far as is permitted by law, Macmillan does not accept liability in relation to the use of any information contained in this publication or third party information or websites included or referred to in it.

© Macmillan Cancer Support 2022. Registered charity in England and Wales (261017), Scotland (SC039907) and the Isle of Man (604). Registered office 89 Albert Embankment, London SE1 7UQ.

Trusted Information Creator

Patient Information Forum